# رسنیزه اعلامیه

## د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی سپارښتنی د افغانستان د حکومتی ادارو او نړیوالی ټولنی له خوا تریوی کچی پلی شویدی، خو د فساد سره د مبارزی لپاره ډیر نور کارته اړتیا ده.

**کابل، افغانستان: د وری ۴مه ۱۳۹۲ هـ ش**

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی خپل دریم شپږمیاشتینی رپوټ چی د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ د میاشتی څخه تر لیندۍ میاشتی پوری کړنی پکی رانغاړی، خپور کړ. دغه رپوټ د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی لاسته راوړنی په تیرو شپږو میاشتو کی او هم د افغانستان د حکومتی او نړیوالو ټولنو ادارو بریاوی د کمیټی د سپارښتنو په پلی کولو کی رانغاړی.

تراوسه پوری د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی ۷۴ سپارښتنی وړاندی کړی ترڅو په افغانستان کی د فساد پروړاندی کړنی پیاوړی کړی. دغه سپارښتنی د فساد پروړاندی پراخه برخی رانغاړی چی پکی د فساد پروړاندی د کړنو پیاوړی کول کوم چی د فساد پروړاندی د قضایی غبرګون غښتلتوب، او په پرمختیایی بودجه کی د روڼوالی رامنځته کول دی، شامل دی.

دغه رپوټ ښکاره کوی چی د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی یواځی ۲۰ سلنه سپارښتنی په بشپړ ډول پلی شویدی، په داسی حال کی چی ۲۲ سلنه سپارښتنی په ټولیز ډول نه دی پلی شوی. همدارنګه د نورو ۵۸ سلنه سپارښتنو د پلی کیدو په برخه کی تر یوی کچی پرمختګ شویدی. ددی لپاره چی د فساد سره په اغیزمنه توګه مبارزه وشی، کورنی او نړیوالی اداری باید خپلی هڅی غښتلی کړی.

د پام وړ پرمختګ د کانونو په برخه کی شویدی چیرته چی د کانونو د راویستلو تړونونه خپاره شوی، او د کانونو د نورو تړونونو پرسر د خبرو لپاره نړیوال سلاکاران په کار ګمارل شوی. حال داچی، د اداری فساد پوری د اړوندو کسانو د محاکمی د کړنو نشتوالی او د اداری فساد پروړاندی د کړنو په برخه کی د افغانستان د حکومت له خوا د همغږی نه شتون دوام موندلی دی. نوری د اندیښنی وړ ساحی د نړیوالی ټولنی له خوا د افغانستان د مالیه وزارت سره د پرمختیایی پروژو نه راجستر کول او نظامی تخنیکی تړونو لاندی د مالیاتو څخه د معافو وارد شوو مالونو نه ارزیابی کول شامل دی.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی نوبتی رئیس ډرګوکاس وایی:

> زما په آند، ددغه رپوټ اصلی پیغام دادی چی په دغه هیواد کی د فسار پروړاندی کافی کړنی سرته نه دی رسیدلی. څمونږ کمیټی د پام وړ کړنو ټولګی چمتو کړی چی کورنی او نړیوالی اداری ددی لپاره چی د افغانانو لپاره یو بدلون رامنځته کړی، پلی کړی. دا ضروری ده چی ټولی اداری څمونږ سپارښتنو ته لمړیتوب ورکړی او دهغوی د پلی کولو لپاره اړین ګامونه پورته کړی.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی وروستی رسمی سفر د ۱۳۹۱ کال د کب د میاشتی د ۱۴می نیټی څخه تر ۲۸ نیټی پوری سرته ورسید. ددغه سفر په ترڅ کی کمیټی ۳۶ نوی سپارښتنی او بنچمارکونه د افغانستان حکومت او نړیوالی ټولنی ته نهایی کړیدی.

**د لا ډیرو معلوماتو لپاره د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی سره په اړیکه کی شی. د اړیکی شمیره** ۰۰۹۳۷۹۰۶۶۰۴۳۲ **contact@mec.af** **www.mec.af**